**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**
**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۹۳** (از ۱٦ الی ۲۳ دلو ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه .......... ۲

**روسيه او افغانستان؛ آيا بې‌باوري پای ته رسېدلې؟**

کابل او مسکو؛ له سیمه‌ییزې اجماع تر بې‌باورۍ .......... ۴

آیا بې‌باورۍ پای ته رسېدونکې دي؟ .......... ۴

افغانستان؛ د نړیوالو ځواکونو له رقابت د سیمه‌ییزو ځواکونو تر همغږۍ .......... ۵

**سال ۲۰۱٦ خونین‌ترین سال در یک‌ونیم دههٔ گذشته**

تلفات افراد ملکی (۲۰۰۱-۲۰۱٦) .......... ۸

عاملین تلفات ملکی .......... ۹

تلفات زنان و کودکان (۲۰۰۹-۲۰۱٦) .......... ۱۰

عوامل افزایش تلفات ملکی در سال ۲۰۱٦ .......... ۱۱

## مقدمه

د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدين رباني تېره سه‌شنبه (د سلواغې ۱۹مه) مسکو ته ولاړ. په دغه سفر کې روسیې، د افغانستان په اړه په راتلونکي جوړېدونکي کنفرانس کې افغانستان ته د ګډون بلنه ورکړه او د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګي لاوروف له ښاغلي رباني سره په یوه ګډ خبري کنفرانس کې وويل، چې روسيه د افغانستان وضعیت څاري او ښايي د سوریې په څېر به د افغانستان د قضیې په اړه هم له امریکا سره یوې هوکړې ته ورسېږي.

د افغانستان او روسیې ترمنځ د بې‌باوریو له یوې څپې وروسته، مسکو ته د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر له رسمي سفر سره دغه دوه‌اړخیزې اړیکې یو ځل بیا مخ په ښه کېدو شوې. له تېر کال راهیسې په تېره بیا د افغانستان په شمال کې د ناامنیو له زیاتېدو سره روسیې د افغانستان په لور پاملرنه زیاته کړې ده. دا چې د کابل-مسکو اړیکې په کوم لوري رواني دي او روسیه د افغانستان په قضیه کې څه ډول رول لوبول غواړي، هغه پوښتنې دي، چې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د دې اوونۍ د تحلیل په لومړۍ برخه کې یې په اړه شننه لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې په ۲۰۱٦ کال کې د افغان ملکي وګړو د تلفاتو په اړه لولئ. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سازمان دفتر (یوناما) په خپل کلني راپور کې، ۲۰۱٦ کال په تېره یوه‌نیمه لسیزه کې د ملکي وګړو لپاره تر ټولو خونړۍ کال بللی. که څه هم د افغانستان د جګړې د مرګ ژوبلې په اړه د فعالو داخلي او نړیوالو ارګانونو راپورونه تر ډېره ریښتینی تصویر نه شي وړاندې کولی؛ خو دا خبره یقیني ده چې په افغانستان کې د روانې جګړې ستره برخه قربانیان ملکي وګړي دي او د جګړو ښکېل لوري یې ژوند ته پاملرنه نه کوي. په دې تحلیل کې له ۲۰۰۱ کال راهیسې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د وضعیت او په تېر میلادي کال کې د دغو تلفاتو د زیاتېدو د لاملونو په اړه لولئ.

# روسیه او افغانستان؛ آیا بې‌باوري پای ته رسېدلې؟



تېره اوونۍ د افغانستان د بهرنيو چارو وزير صلاح الدين رباني داسې مهال د خپل روسي سيال په بلنه مسکو ته په دوه‌ورځني سفر ولاړ، چې له تېرو دوو مياشتو راهيسې د کابل او مسکو ترمنځ بې‌باورۍ د زياتېدو په لور روانې وې. له همدې کبله دغه سفر په ملي او نړيوالو رسنيو کې منعکس شو او په تېره بيا په هېواد کې له دغه سفر سره داسې هيلې هم وتړل شوې، چې دا سفر به د دواړو هېوادونو ترمنځ، د بې‌باورۍ زياتېدونکې واټن راکم کړي.

د صلاح الدين رباني د دغه سفر پرمهال دوه مهم پرمختګونه وشول: لومړی دا چې روسيه به له افغانستان سره په بېلابېلو برخو، په تېره بيا په نظامي-تخنيکي برخو کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي؛ او دويم دا چې د فبرورۍ په ۱۵مه به په مسکو کې د افغانستان په تړاو د سيمه‌ييزو هېوادونو يو کنفرانس هم جوړ کړي، چې روسيه، چين، پاکستان، افغانستان، هند او ايران به پکې ونډه واخلي.

دا چې د ملي يووالي حکومت پرمهال د روسيې او افغانستان اړيکې څرنګه وې، د دواړو هېوادونو ترمنځ بې‌باورۍ څرنګه وزيږېدې او آيا دا بې‌باورۍ پای ته رسېدونکې دي؟ دا او دې ته ورته پوښتنې مو په دغه تحليل کې ځواب کړې دي.

## کابل او مسکو؛ له سیمه‌ییزې اجماع تر بې‌باورۍ

له ۲۰۰۱ کال وروسته، د کابل او مسکو ترمنځ اړیکې عادي وې؛ خو د حامد کرزي په دویمه دوره کې دا اړیکې د نږدې کېدو په لور ولاړې. د ملي یووالي حکومت له جوړېدو وروسته افغان ولسمشر اشرف غني او د ملي امنیت سلاکار حنیف اتمر د سخت‌دریځی ضد جګړې لپاره د سیمه‌ییزې اجماع د رامنځته کولو هڅه وکړه. غني او اتمر په همدې موخه روسیې ته سفرونه وکړل او روسیې هم په پیل کې افغانستان ته د څلورو چورلکو ورکولو ژمنه وکړه. خو ډېر ژر د دواړو هېوادونو ترمنځ بې‌باورۍ وزیږېدې، چې تر شا یې څلورو مهمو لاملونو رول ولوباوه:

**لومړی**؛ په هېواد کې د داعش ډلې ظهور او فعالیتونه، چې د روسیې پاملرنه یې د افغانستان په لور زیاته کړه. دغه راز په افغانستان کې د یو شمېر وکیلانو له‌خوا له داعش ډلې څخه د ملاتړ په تړاو، د ملي امنیت پر شورا تورونو هم په مسکو کې د ترهګرۍ-ضد جګړه کې د افغان حکومت پر هڅو شکونه وزیږول.

**دویم**؛ د مسکو او طالبانو پراخېدونکې اړیکې او تماسونه هغه څه شول، چې افغان حکومت یې اندېښمن کړ او په غبرګون کې یې د ډېلو پرځای پر دولتي-دولتي اړیکو ټینګار وکړ.

**درېیم**؛ په مسکو کې د روسانو له‌خوا د افغانستان په تړاو د روسیې-چین-پاکستان درې‌اړخیزې ناستې هم پر دوه‌اړخیزو اړیکو سیوری وغوړاوه.

**څلورم**؛ د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ په لومړۍ اوونۍ کې داسې خبرونه خپاره شول، چې روسیې د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې د افغان حکومت د هغې غوښتنې په لاره کې خنډ جوړ کړی، چې له مخې یې د حزب اسلامي د مشر انجنیر ګلبدین حکمتیار نوم د ملګرو ملتونو له تور لیست څخه لرې کېده.

## آیا بې‌باورۍ پای ته رسېدونکې دي؟

روسیې ته د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني له سفره وړاندې، د دواړو هېوادونو ترمنځ بې‌باوري زیاته شوې وه؛ خو د دغه سفر پرمهال یو شمېر داسې پرېکړې او څرګندونې وشوې، چې له مخې یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د بې‌باورۍ دغه واټن د کمېدو په لور روان دی. ځکه؛ **لومړی:** که څه هم روسیې په پیل کې د ملګرو ملتونو له تور لیست څخه د حکمتیار د نوم ایستلو په تړاو اندېښنه ښودلې وه؛ خو په فبرورۍ میاشت کې

د روسيې د همکارۍ له کبله شوني شوه، چې د ګلبدين حکمتيار نوم د ملګرو ملتونو له تور ليست څخه لرې شي.

**دويم**؛ د امنيتي-نظامي-تخنيکي همکارۍ زياتولو په تړاو همغږي وشودل شوه، په تېره بيا د افغان امنيتي ځواکونو او افغان ملي اردو د جګړې وړتيا زياتونه او د وسلو مرستې. په همدې تړاو دواړو لورو، د قانوني چوکاټ جوړونه پياوړې کړه چې د ۲۰۱٦ کال په نومبر مياشت کې عملي شو.

**درېيم**؛ د روانې مياشتې په ۱۵مه به په مسکو کې د سيمې هېوادونه (روسيه، چين، پاکستان، افغانستان، ايران او هند) د افغانستان په تړاو جوړېدونکي کنفرانس کې ګډون وکړي.

**څلورم**؛ د شانګهای د همکارۍ کنفرانس کې د افغانستان له غړيتوب څخه ملاتړ او د دغه سازمان د چوکاټ دننه د افغانستان په تړاو "کانټکټ ګروپ" جوړول.

**پنځم**؛ له طالبانو سره پر خبرو اترو ټينګار چې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د قراردادونو او د افغان حکومت پر ملاتړ بنا وي.

**شپږم**؛ د دواړو هېوادونو د بهرنيو چارو وزارتونو ترمنځ د کتنو زياتولو پر سر همغږي.

په عمومي توګه د افغانستان د بهرنيو چارو وزير وروستی سفر د افغانستان او روسيې ترمنځ د اړيکو رغولو يوه هڅه وه، چې په لنډمهال کې به وکړای شي، د بېباورۍ واټن راکم او د دواړو هېوادونو نظرونه سره نژدې کړي. خو بيا به هم په هېواد کې دننه وضعيت او يو شمېر نړيوالو فکتورونو (په تېره بيا له امريکا او ناټو سره د روسيې زياتېدونکي کړکېچ) سره تړاو ولري، چې د کابل او مسکو ترمنځ د بېباورۍ واټن نور هم زياتولای شي.

## افغانستان؛ د نړيوالو ځواکونو له رقابت د سيمه‌ييزو ځواکونو تر همغږۍ

په افغانستان کې له تېر يوه کال راهيسې د دوو نړيوالو زبرځواکونو امريکا او روسيې ترمنځ همکاري پای ته رسېدلې او مسکو څو ځله په افغانستان کې د امريکا پر تګلاره نيوکې وکړې. همدا لامل دی، چې د روسيې د بهرنيو چارو وزير سرګي لاوروف په افغانستان کې د امريکا او روسيې ترمنځ د همکارۍ د ختمېدا ملامتي د امريکا پر پخواني ولسمشر اوباما واچوله او په وينا يې د اوباما د دورې پرمهال د دوی ترمنځ ناستې ونه شوې او بېباوري هم زياته وه.

په افغانستان کې د امریکا او روسیې د همکارۍ د ختمېدا تر شا د اوکراین او سوریې بحرانونو هم مهم رول ولوباوه. له همدې کبله اوس روسیه هم، په افغانستان کې ډېره لېوالتیا اخلي او د همدغې لېوالتیا له کبله په افغانستان کې د امریکا د تګلارې په تړاو ضد او نقیض څرګندونې کوي. د بېلګې په توګه ځینې مهال په هېواد کې د امریکا پوځي اډې تر پوښتنې لاندې راولي؛ خو بیا وروسته دا هم وایي، چې که له افغانستانه بهرني ځواکونه ووځي، نو د هېواد وضعیت به نور هم خراب شي.

په افغانستان کې د داعش ډلې زیاتېدونکی نفوذ او په تېره بیا له ختیځ څخه په شمال کې څرګندېدل هم هغه څه دي، چې د روسیې پاملرنه یې د افغانستان په لور زیاته کړې ده. له همدې امله روسیه اوس د افغانستان په تړاو، له امریکا او ناټو پرته د سیمه‌ییزو هېوادونو یو کنفرانس جوړوي او د دغه کنفرانس پرمټ غواړي، چې د افغانستان قضیې ته یوه سیمه‌ییزه حل‌لاره پیدا کړي. خو که د افغانستان په قضیه کې دخیلو لورو (امریکا او ناټو او طالبانو) ته په یوه داسې کنفرانس کې برخه ورنه کړل شي، چې موخه یې د افغانستان د قضیې حل وي؛ نو تر ډېره ناشونې ده، چې دا ډول کنفرانسونه خپلو موخو ته ورسېږي. اړینه ده، چې په اساسي او کلي مسایلو کې د سیمه‌ییزو هېوادونو او امریکا ترمنځ همغږي پیدا شي، د بېلګې په ډول د افغانستان سوله او د افغان دولت او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو لپاره زمینه برابرول.

# سال ۲۰۱٦ خونین‌ترین سال در یک‌ونیم دههٔ گذشته



دفتر سازمان ملل متحد در افغانستان (یوناما) در گزارش سالانهٔ خویش می‌نگارد که تلفات ملکی در افغانستان در سال ۲۰۱٦ سه درصد نسبت به سال ۲۰۱۵ افزایش یافته و از زمان ثبت تلفات در سال ۲۰۰۹ بی‌سابقه بوده است.

آمار این گزارش که روز دوشنبه (٦ فبروری ۲۰۱۷) منتشر شد، حاکی از آن است که در سال ۲۰۱٦ میلادی ۱۱۴۱۸ تن غیرنظامی قربانی جنگ در کشور بودند که از جملهٔ آن‌ها ۳۴۹۸ تن کشته و ۷۹۲۰ تن دیگر زخمی شده‌اند و در مورد عاملین این تلفات نیز سخن زده است.

یوناما از سال ۲۰۰۹ بدین‌سو به‌طور منظم تلفات افراد ملکی را ثبت می‌نماید که با گذشت هر سال آمار تلفات ملکی افزایش می‌یابد؛ ولی یک نقطهٔ قابل توجه این است که یوناما در رابطه به عاملین تلفات ملکی همواره گروه‌های مسلح مخالف حکومت و نیروهای افغان را ملامت می‌داند، ولی به کشتارهای نیروهای خارجی بیشتر پرده می‌افگند.

در این تحلیل به چگونگی تلفات ملکی در یک‌ونیم دههٔ گذشته، عاملین تلفات ملکی، نقش گروه‌های مسلح درگیر جنگ در تلفات ملکی و عوامل افزایش تلفات ملکی در سال ۲۰۱٦ پرداخته شده است.

## تلفات افراد ملکی (۲۰۰۱-۲۰۱٦)

در سال ۲۰۰۱ زمانیکه نیروهای امریکایی و نیروهای ائتلاف حملات خود را به خاک افغانستان آغاز کردند، میزان تلفات افراد ملکی در این سال بلند بود و شمار کشته‌شده‌گان ملکی به ۲۳۷۵ تن می‌رسید. سپس در سال‌های ۲۰۰۲ الی ۲۰۰٦ جمعاً ۲۴۲۲ فرد ملکی کشته شدند. باید گفت که این آمار از طرف اداره‌ی رسمی جمع‌آوری نگردیده بلکه محصول تلاش‌های شخصی از جانب محققین بوده است.

یوناما در سال ۲۰۰۷ آغاز به جمع‌آوری ارقام تلفات ملکی نمود، ولی از لحاظ میتودولوژی علمی، گزارش‌های یوناما در سال‌های ۲۰۰۷ و ۲۰۰۸ با گزارش‌های این نهاد در سال ۲۰۰۹ و سال‌های پس از آن، متفاوت اند.

اگر گزارش‌های یوناما در مورد تلفات ملکی را مطالعه نماییم، با مقایسه و مطالعهٔ ارقام ارئه شده در مورد تلفات ملکی از سوی این نهاد، در می‌یابیم که هر زمانی ناامنی‌ها بیشتر شده و جنگ نیروهای افغان و خارجی با مخالفین مسلح دولت شدت گرفته، تلفات ملکی نیز افزایش یافته است. پس از سال ۲۰۰۷ همه‌ساله (به استثناء سال ۲۰۱۲) میزان تلفات ملکی افزایش یافته است (برای توضیح بیشتر به جدول۱- مراجعه نمایید). در سال ۲۰۰۹ به طور مجموعی تعداد تلفات ملکی ۳۵۵٦ تن بود، ولی این رقم در سال ۲۰۱٦ به ۱۱۴۱۸ تن رسید. در کل، با توجه به ارقام سازمان ملل متحد، از سال ۲۰۰۷ تا پایان سال ۲۰۱٦ میلادی، شمار کشته و زخمی شده‌گان افراد ملکی در افغانستان به ۷۳۷۹۳ تن می‌رسد.

**جدول۱-: تلفات ملکی در افغانستان (۲۰۰۹-۲۰۱٦)**

| سال | مجروحین | کشته‌شده‌گان | مجموع |
|---|---|---|---|
| ۲۰۰۹ | ۳۵۵٦ | ۲۴۱۲ | ۵۹٦۸ |
| ۲۰۱۰ | ۴۳٦۸ | ۲۷۹۲ | ۷۱٦۰ |
| ۲۰۱۱ | ۴۷۰۹ | ۳۱۳۳ | ۷۸۴۲ |
| ۲۰۱۲ | ۴۸۲۱ | ۲۷٦۹ | ۷۵۹۰ |
| ۲۰۱۳ | ۵٦٦۹ | ۲۹٦۹ | ۸٦۳۸ |
| ۲۰۱۴ | ٦۸۳۳ | ۳۷۰۱ | ۱۰۵۳۴ |
| ۲۰۱۵ | ۷۴۵۷ | ۳۵۴۵ | ۱۱۰۰۲ |
| ۲۰۱٦ | ۷۹۲۰ | ۳۴۹۸ | ۱۱۴۱۸ |

*مأخذ: گزارش‌های منتشره یوناما در مورد تلفات ملکی در افغانستان(۲۰۰۹-۲۰۱٦)*

## عاملین تلفات ملکی

در گزارش‌های یوناما همه‌ساله در کنار آمار تلفات ملکی، عوامل تلفات و همچنان پیشنهاداتی به طرف‌های درگیر جنگ در افغانستان برای کاهش این تلفات نیز ارائه می‌شود.

در مورد عاملین تلفات ملکی از یک‌سو در این ارقام آنعده از تلفات ملکی که یوناما در مورد قراردادن آن تحت کتگوری تلفات ملکی شواهد کافی ندارد و یا هم مواردی که یوناما به آن دسترسی نداشته است، شامل این گزارش‌ها نشده است و از سوی دیگر تلفات ملکی ناشی از حملات طیاره‌های بدون سرنشین و بیشتر تلفاتی که از طرف نیروهای خارجی به افراد ملکی وارد شده، در این ارقام اضافه نشده است.

در گزارش سال ۲۰۱٦ یوناما آمده است که مسؤول ٦١ درصد از تلفات افراد ملکی عناصر ضد دولت (عمدتا طالبان) و ۲۴ درصد نیروهای طرفدار دولت (۲۰ درصد نیروهای امنیتی افغان، ۲ درصد ملیشه‌های طرفدار دولت و ۲ درصد نیروهای خارجی) شناخته شده است. این نهاد همچنان مسوولیت ۱۰ درصد تلفات افراد ملکی را به درگیری‌های زمینی میان عناصر ضد دولت و نیروهای طرفدار دولت نسبت داده است، زیرا نسبت دادن تلفات افراد ملکی ناشی از این تاکتیک به یک طرف مشخص ممکن نبود. مسوولیت پنج درصد باقی‌ماندۀ تلفات افراد ملکی به هیچ یک از طرفین درگیر نسبت داده نشده زیرا این تلفات عمدتاً ناشی از مواد منفجرناشده باقیمانده از جنگ می‌باشند.

در آماری که توسط یوناما ثبت گردیده، نقش نیروهای خارجی در رابطه به تلفات ملکی در افغانستان تنها دو درصد ذکر شده رقمی که تعجب‌آور است، چون در سال ۲۰۱٦ نیروهای خارجی از یک‌سو دوباره به میدان جنگ بازگشتند و از سوی دیگر حملات طیاره‌های بدون سرنشنین این نیروها نیز افزایش یافت.

**جدول۲-: عاملین تلفات ملکی (۲۰۰۹-۲۰۱٦)**

| سال | تلفات ملکی توسط نیروهای طرفدار حکومت | تلفات ملکی توسط مخالفین حکومت | دیگر |
|---|---|---|---|
| ۲۰۰۹ | ۱۰۳۵ | ۴۱۲۴ | ۸۰۹ |
| ۲۰۱۰ | ۸۲۴ | ۵۴۲۸ | ۹۱۰ |
| ۲۰۱۱ | ۱۱۰٦ | ۵۸۱۷ | ۹۱۹ |
| ۲۰۱۲ | ٦۰۳ | ٦٦٦۹ | ۳۱۸ |
| ۲۰۱۳ | ۹۸۲ | ۷۲۵۵ | ۴۰۱ |
| ۲۰۱۴ | ۱۴۵۳ | ۷٦۴۳ | ۱۴۳۸ |
| ۲۰۱۵ | ۱۸۵۴ | ٦۸۵۹ | ۲۲۸۹ |
| ۲۰۱٦ | ۲۷۲۸ | ٦۹۹۴ | ۱٦۹٦ |

*مأخذ: گزارش‌های منتشره یوناما در مورد تلفات ملکی در افغانستان(۲۰۰۹-۲۰۱٦)*

## تلفات زنان و کودکان (۲۰۰۹- ۲۰۱٦)

بربنیاد آمار یوناما در سال ۲۰۱٦ میلادی کشته و زخمی شده‌گان اطفال به ۳۵۱۲ تن می‌رسد که از این جمله ۹۲۳ طفل کشته و ۲۵۸۹ طفل دیگر مجروح شده‌اند. این رقم نظر به سال ۲۰۱۵ میلادی ۲۴ درصد افزایش را نشان می‌دهد.

در آمار تلفات زنان نظر به سال ۲۰۱۵ دو درصد کاهش به نظر می‌رسد (تلفات زنان در سال ۲۰۱٦ میلادی به ۱۲۱۸ تن می‌رسد که از این جمله ۳۴۱ تن کشته و ۸۷۷ تن دیگر مجروح شده‌اند.) برای جزئیات بیشتر به جدول-۳ مراجعه نمایید.

**جدول۳-: تلفات زنان و کودکان (۲۰۰۹-۲۰۱۶)**

| سال | مجروحین اطفال | کشته شده‌گان اطفال | مجموع | مجروحین زنان | کشته‌شده‌گان زنان | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰۰۹ | ۴۲۳ | ۳۰۷ | ۷۳۰ | ۱۵۲ | ۱۳۳ | ۲۸۵ |
| ۲۰۱۰ | ۷۹۹ | ۳۷۸ | ۱۱۷۷ | ۲۰۲ | ۱٦۷ | ۳٦۹ |
| ۲۰۱۱ | ۸۰۴ | ۵۵۷ | ۱۳٦۱ | ۲۴۷ | ۲۰۳ | ۴۵۰ |
| ۲۰۱۲ | ۸۲۱ | ۴۹۲ | ۱۳۱۳ | ۳۵۲ | ۱۹٦ | ۵۴۸ |
| ۲۰۱۳ | ۱۲۰۰ | ۵٦۴ | ۱۷٦۴ | ۵۱۴ | ۲۳٦ | ۷۵۰ |
| ۲۰۱۴ | ۱۷٦۱ | ۷۱۵ | ۲۴۷٦ | ٦۱۱ | ۲۹۸ | ۹۰۹ |
| ۲۰۱۵ | ۲۰۹٦ | ۷۳۳ | ۲۸۲۹ | ۹۱۳ | ۳۳۳ | ۱۲۴٦ |
| ۲۰۱٦ | ۲۵۸۹ | ۹۲۳ | ۳۵۱۲ | ۸۷۷ | ۳۴۱ | ۱۲۱۸ |

*مأخذ: گزارش‌های منتشره یوناما در مورد تلفات ملکی در افغانستان(۲۰۰۹-۲۰۱٦)*

## عوامل افزایش تلفات ملکی در سال ۲۰۱٦

تشدید جنگ‌های زمینی و ناامنی‌ها با عدم توجه به حفظ جان غیرنظامیان از سوی طرف‌های درگیر جنگ، بازگشت نیروهای خارجی به میدان جنگ، حملات هوایی بر اماکن مسکونی و غیره عواملی اند که در سال ۲۰۱٦ باعث افزایش تلفات ملکی در افغانستان شده است.

- **تشدید جنگ:** سال ۲۰۱٦ یک سال سخت و پر از چالش‌ها برای حکومت و مردم افغانستان بود. این سال گواه جنگ‌های شدید میان نیروهای افغان و گروهای مسلح مخالف دولت بخصوص طالبان بود. در این سال از یک‌سو درگیری‌های زمینی شدت گرفت و از سوی دیگر نیروهای خارجی نیز به حملات هوایی خویش شدت بخشید و اماکنی را مورد هدف قرار دادند که باعث تلفات سنگین افراد ملکی گردید.
- **انفجارها و حملات مخالفین مسلح دولت:** عامل عمدۀ دیگر افزایش تلفات ملکی در سال ۲۰۱٦ حمله‌های گروهی و انفجارهای مرگبار در کابل و سایر شهرهای بزرگ کشور بود. در این سال بیشتر حملات مخالفین مسلح دولت در محل‌هایی رخ داد که مردم عام به کارهای روزمرۀ خویش مصروف بودند.

- **گروه داعش:** گزارش یوناما در سال ۲۰۱٦ از مجموع تلفات نسبت داده شده به گروهای ضد دولت، ۸۹۹ مورد تلفات ملکی (۲۰۹ کشته و ٦۹۰ زخمی) را به گروه داعش در افغانستان نسبت داده است. در حالیکه در سال ۲۰۱۵ این رقم ۸۲ فرد ملکی (۳۹ کشته و ۴۳ زخمی) به ثبت رسیده بود که نشانگر ده برابر افزایش در تلفات ملکی به دست این گروه نسبت به سال گذشته می‌باشد.
- **عملیات نظامی حکومت:** در گزارش سال ۲۰۱٦ یوناما مسؤولیت ۲۰ درصد کل تلفات افراد ملکی را به نیروهای افغان نسبت داده است. در حالیکه این رقم در سال ۲۰۱۵ از سوی یوناما ۱۷ درصد ثبت شده بود. افزایش چشمگیر تلفات ملکی ناشی از حملات هوایی نیروهای افغان و افزایش حملات تهاجمی طوری بوده که اقدامات احتیاطی پیشگیرانه روی دست گرفته نشده است.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.